شيطان ستاسو څخه يو ته راځي او وايي: دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ تر دې چې ووايي: ستا رب چا پيدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېږه، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودريږي

له ابو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي: «شيطان ستاسو څخه يو ته راځي او وايي: دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ تر دې چې ووايي: ستا رب چا پيدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېږه، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودريږي.»
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغو پوښتنو په اړه چې شيطان پرې مؤمن ته وسوسې ور اچوي د مؤثرې درملنې څخه خبر ورکوي. شيطان به ووايي: دا فلانی چا پيدا کړی دی؟ دا فلانی چا پيدا کړی دی؟ ځمکه چا پيدا کړې ده؟ نو مؤمن به ورته د دين، فطرت او عقل له مخې پدې وينا سره جواب ورکړي چې: الله، خو شيطان د وسوسې اچولو لدې حد سره نه ودريږي، بلکې بل پړاو ته ځي تر دې چې ووايی: ستا رب چا پيدا کړی دی؟ بيا مؤمن په دربو کارونو سره دغه وسوسه له منځه وړي: په الله تعالى باندې په ايمان لرلو سره. او له شيطان څخه په الله جل جلاله باندې پناه وړلو سره. او په وسوسو کې له مخکې تللو څخه په ودږدلو سره.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65013

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee